# د خوشحال خان خټک
# د اشعارو په رڼا کښې د زکوٰة مصارف

## Description of Zakwath in the Poetry of Khushal Khan Khattak

Sayed Bacha Agha*
Hafiz Rahmat Niazi♦

**Abstract**:

Khushal Khan Khattak, is one of the most influential literary figure in the classical period. The history of Pashto Literature indicates that he has almost reshaped the over all poetic and literary tradition of Pashto Literature. His voluminious work in the poetic form possesses diverse themes that cover almost all the aspects of life. In this paper the scholar has articulated the seven different types of the persons that are supposed to pay Zakwath. The scholars have traced the relevant references from his voluminious collection of poetry and have analyzed in the context of the contemprery and classical Islamic jurusprudance.

خوشحال خان خټك د پښتو ژبې هغه ستر نوم دی چې د پښتنو په نفسياتو باندې په هر لحاظ پوه ؤ. او هر هغه څۀ چې پښتانۀ قام ته په ګټه پرېوځي هغه يې د خپلو ليکنو برخه ګرځولي دي. ځکه خو خوشحال خان خټك ته د هر اړخيز شخصيت دستار هم پښتانۀ ور پر سر کوي. او په پښتني ټولنه کښې داسې ډېر شيان اوس هم وجود لري چې د اسلام له اساسي قانون سره برابر دي او د هغو شيانو پرېښوول يا ختمول پښتني ټولنه ډېر سخت پېغور بولي. د خوشحال خان خټك په کليات کښې يوه برخه د فضلنامې په شکل کښې وجود لري چې بنياد يې ټول د اسلامي فقهې د قوانينو دپاره خاص کړی دی. د اسلام په بنيادي بناوو کښې

* Sayed Bacha Agha is Lecturer at Degree College Muslim Bagh-District Killasaifullah
♦ Hafiz Rahmat Niazi is Lecturer at Intern College Barwary Road Quetta

زکوٰۃ هم شامل دی او اسلام د گردش دولت د ناهمواری/ برابری په سخته سره مخنیوی کوي، اسلام په خپل ځانګړي نظام کښې د زکوٰۃ نافذولو په ذریعه دې خبرې خاص خیال ساتلی دی چې دولت د یو څو کسانو په لاس کښې پاتې نۀ شي او په بشپړه توګه د زکوٰۃ په ذریعه مالونه د ټولنې د هر وګړي په لاس کښې ورشي او تر ضرورت زیات مال جمع کول اسلامي نظریه بد بولي، ځکه خو الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې فرمايي:

"والذين يكنزون الذهب والفضة ولاينفقونها فى سبيل الله فبشرهم بعذاب اليم"(1).

ترجمه: او کوم کسان چې خزانې سره جمع کوي د سرو او سپینو زرو او دا د الله په لار کښې نۀ خرڅوي نو د داسې کسانو دپاره د دردناک عذاب خوشخبري ده.

د دغه پورتني آيت او پورتنيو خبرو په تناظر کښې خوشحال خان خټک وايي:

"چې زکاۃ نۀ ورکوينه
په دوزخ کښې به سېځينه
که روپيې که مهران وي
په دوزخ کښې به تاوان وي
د دوی مخ به پرې داغينه
په دست ځان بۀ يې کېږدينه
په قيامت به يې کټ کوټ کا
لاس او پښې به يې سوټ بوټ کا"(2)

دغسې د پورتنيو شعرونو غوندې په حديث شريف کښې راځي:

"اقسموا المال بين اهل الفرائض علىٰ كتاب الله تعالىٰ"(3).

ترجمه: د الله د کتاب مطابق خپل مال په هغو کسانو باندې تقسیم کړئ چې د هغو حق مقرر او ټاکل شوی دی.

الله تعالیٰ په خپل کتاب قرآن مجيد کښې د هغو کسانو ذکر په خپله کړی دی چې هغه مستحق د زکوٰة دي و هغو ته مصارف زکوٰة هم ويل کيږي. د پاك خدای فرمان دی:

"انما الصدقات للفقراء والمساکين والعاملين عليها والمؤلفة قلوبهم وفی الرقاب والغارمين وفی سبيل الله وابن السبيل فريضة من الله والله عليم حکيم"(4).

ترجمه: صدقې (زکوٰة) صرف د فقيرانو دپاره دي او د مسکينانو دپاره دي، او د زکوٰة ټولونکو دپاره دي او د هغو کسانو دپاره دي چې مقصد يې زړونه جلبول وي د اسلام و خوا ته، او د غلامانو دپاره دي، او د پوروړو دپاره دي او د مسافرو دپاره دي او چې د خدای په لاره کښې وتلي وي د هغو دپاره دي. بې شکه چې الله تعالیٰ ډېر پوه او د حکمت خاوند دی.

په ذکر شوي آيت کښې د زکوٰة اتۀ مصارف راغلي دي لکه مسکين، فقير، د فقير او مسکين په اصل معنٰی کښې که څۀ هم اختلاف دی يعنې د فقير معنا دا ده چې هيڅ هم نۀ لري او د مسکين معنا دا ده چې کوم څۀ لري هغه تر نصاب کم وي، ليکن د زکوٰة په حکم کښې دواړه يو ډول دي، معنا دا چې له هغه چا سره چې د دۀ تر اصلي ضرورتونو زيات مال وي هم خو چې تر نصاب کم وي و هغه ته زکوٰة ورکول کېدای شي. بهرحال د زکوٰة اول دوه مصارفه فقير او مسکين دي چې و دې ته خوشحال خان خټك داسې اشاره کړې ده:

"اول روغ په فقيران دی
دويم روغ په درويشان دی"(5)

درېيم مصرف العاملين عليها دي يعنې کوم څوك چې د وخت حاکم ټاکلي وي چې له بېلا بېلو خلګو څخه د بېلا بېلو شيانو زکوٰة را جمع کوي او بيا يې بيت المال ته سپاري، نو دوی ته زکوٰة ځکه ورکول کېدای شي چې دوی ټول عمر په دا زکوٰة را ټولو بوخت وي او د ملت خدمت کوي نو کوم څوك چې د خپل ملت په خدمت اخته وي د هغو دپاره اسلام په

ځان دا فرض ګڼي چې د دوی د ضرورتونو خیال هم وساتي. ځکه خو په قرآن کریم کښې د داسې کسانو ذکر د زکوٰة په مصارفینو کښې شوی دی. او د دوی د خدمت حق هم دغه د زکوٰة له ماله ورکړل کیږي. او دا ذمه داري الله تعالی په اول سر کښې براه راست پیغمبرصلی الله علیه وسلم ته سپارلې وه لکه په آیت کښې راځي:

"خذ من اموالهم صدقة"(**6**).

یعني ته (پیغمبر) د مسلمانانو له مالو څخه صدقه (زکوٰة) وصول کړه. دلته دا خبره مقصود ده چې د آیت مذکور په رڼا کښې د مسلمانانو په امیر دا لازمه ده چې دی له مسلمانانو څخه صدقات او زکوٰة را جمع کړي او ښکاره خبره ده چې امیر یوازې دا کار بې له مددګارانو سر ته نۀ شي رسولی، نو په آیت کښې و دغو معاونینو او کومك کوونکو ته عاملین ویل شوي دي، که چرې دوی تر خپلې اجرت (تنخواه) کم زکوٰة یا صدقه ټوله کړې وي بیا به د دوی په اجرت کښې هم کمي کیږي. په دغه بیان کښې دا خبره معلومه شوه چې و عاملینو ته زکوٰة چې کوم رقم د زکوٰة له مد ورکول کیږي هغه په حدیث د صدقې کښې نۀ دی راغلی بلکې دا د دوی د خدمت بدل دی، په دغه وجه باوجود له غنیتوبه دوی ته د زکوٰة له مد څخه یو شی ورکول جائز دی، دلته دوه سوالونه منځ ته راځي چې مفتي محمد شفیع یې ډېر ښۀ وضاحت کړی دی او وایي:

"یہاں دو سوال پیدا ہوتے ہیں اول یہ کہ مال زکوٰة کو معاوضہ خدمت مین کیسے دیا گیا؟ دوسرے یہ کہ مالدا کے لئے یہ مال زکوٰة حلال کیسے ہوا؟ ان دونون سوالوں کا ایک ہی جواب ہے کہ عاملین صدقہ کی اصلی حیثیت کو سمجھ لیا جائے وہ یہ کہ یہ حضرات فقراء کے وکیل کی حیثیت رکھتے ہیں اور یہ سب جانتے ہیں کہ وکیل کا قبضہ اصل مؤکل کے قبضے کے حکم مین ہوتا ہے اگر کوئی شخص اپنا قرض وصول کرنے کے لئے کسی کو وکیل مختار بنادے اور قرضدار یہ قرض وکیل کو سپرد کردے تو وکیل کا قبضہ ہوتے ہی قرضدار بری ہو جاتا ہے، تو جب رقم زکوٰة عاملین صدقہ نے فقراء کے وکیل ہونے کی حیثیت وصول کرلی تو ان کی زکوٰة ادا ہو گئی. اب یہ پوری رقم ان فقراء کي ملک ہے جن کی طرف سے بطور وکیل انہون نے وصول کي ہے. اب جو رقم بطور حق الخدمت کے ان کو دی جاتي ہے وہ مال داروں کی طرف سے نہیں بلکہ فقراء کی طرف سے ہوئی، اور فقراء کو اس مین ہر طرح کا تصرف کرنے کا اختیار ہے، ان کو یہ بھی حق ہے کہ جب اپنا کام ان لوگون سے لیتے ہیں تو اپنی رقم مین سے ان کو معاوضہ خدمت دے دین، ان سوال یہ رہ جاتا ہے کہ فقراء نے تو ان کو وکیل مختار بنایا نہیں یہ ان کے

وکیل کیسے بن گئے؟اس کی وجہ یہ ہے کہ اسلامي حکومت کا سربراہ جس کو امیر کہا جاتا ہے وہ قدرتی طور پر منجاب اللہ پورے ملک کے فقراء و غرباء کا وکیل ہوتا ہے، کیونکہ ان سب کی ضروریات کی ذمہ داری اس پر عائد ہوتی ہے، امیر مملکت جس جس کو صدقات کی وصول یابی پر عامل بنادے وہ سب ان کے نائب کی حیثیت سے فقراء کے وکیل ہوجاتے ہیں، اس سے معلوم ہوگیا کہ عاملین صدقہ کو جو کچھ دیا گیا وہ درحقیقت زکوٰۃ نہیں دی گئی بلکہ زکوٰۃ جن فقراء کا حق ہے ان کی طرف سے معاوضہ خدمت دیا گیا جیسے کوئی غریب فقیر کسی کو اپنے مقدمہ کا وکیل بنادے اور اس کا حق الخدمت زکوٰۃ کے حاصل شدہ مال سے ادا کردے، تو یہاں نہ تو دینے والا بطور زکوٰۃ کے دے رہا ہے اور نہ لینے والا زکوٰۃ کی حیثیت سے لے رہا ہے"(7).

ثلورم مصرف د زكوٰة مؤلفة القلوب دى، و دې قسم ته خوشحال خان ختك داسې وايي:

"بيا مؤلف القلوب دى
كه اوس نۀ اخلي هم خوب دى"(8).

مؤلفة القلوب څخه هغه كسان مراد دي چې د دوى د زړۀ جلبولو دپاره و دوى ته صدقات وركول كيږي، عام خبره دا كيږي چې په دې كښې مسلمان او غير مسلم دواړه شامل دي، و غير مسلم ته په دا وجه وركيدو چې په اسلام باندې نور هم ټينګ شي، ويل كيږي چې په دا كښې د حضورصلی الله عليه وسلم مصلحت ؤ، وروسته چونكې و اسلام ته مادي قوت حاصل شو نو د داسې تدبيرو ضرورت هم نۀ شو پاتې.

لهٰذا دا قسم فقهاء منسوخ تعبير كړى دى او ډېر حضرات وايي چې د مؤلفة القلوب حصه منسوخ نۀ دى بلكې حضرت صديق اكبررض او د فاروق اعظمرض په وخت كښې دا حصه ساقط كړل شوه، كه چرې په مستقبل كښې د دې ضرورت پېښ شي نو بيا هم وركول كيداى شي، دلته دا خبره د تحقيق وړ ده چې و غير مسلم ته په هيڅ وخت كښې هم له صدقات يا زكوٰة څخه حصه نۀ ده وركړل شوې او نۀ غير مسلم په مؤلفة القلوب كښې داخل دي. امام قرطبي په تفصيل سره هغه نومونه او كسان په ګوته كړي دي چې حضورص د جلبولو دپاره د صدقات له حصې څخه حصه وركړې وه، نو امام قرطبي په خپل تفسير كښې ليكي:

"بالجملة فكلهم مؤمن ولم يكن فيهم كافر"(9).

ترجمه: يعني مؤلفة القلوب ټول مسلمانان وو په دوی کښې هيڅ يو هم کافر نۀ ؤ. دغه رنګه په تفسير مظهري کښې ليکلي دي:

"لم يثبت ان النبى صلى الله عليه وسلم اعطى احداً من الكفار للايلاف شيئا من الزكوٰة"(10).

ترجمه: دا خبره په هيڅ يو روايت سره نۀ ده ثابته چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د زکوٰة څخه د کافر د جلبېدو دپاره څۀ حصه ورکړې وي.

پنځم مصرف د زکوٰة فى الرقاب دي، يعني هغه څوك چې د چا غلام وي يا مينځه وي نو هغه ته په دې نيت زکوٰة ورکول چې خپل بادار ورته شرطيه ازادي ورکوي چې په فقهي اصطلاح کښې ورته مکاتب ويل کيږي، نو دوی ته زکوٰة ورکول ځکه جائز دی چې په دغو پيسو باندې دوی خپل ځانونه خلاصولای شي، خوشحال خان خټك د فى الرقاب په باره کښې داسې وايي:

"بيا هغه چې فى الرقاب دي
ځان يې و پېرود کرياب دي"(11)

رقاب له رقبه څخه وتلى لفظ دی، رقبه و غاړې ته وايي يعني هغه کس چې غاړې يې د بل په غلامۍ کښې مقيدې وي، مفسرين او فقهاء داسې غلام ته په زکوٰة ورکولو کښې هيڅ اختلاف نۀ لري، او وايي چې د داسې غلام د ازادولو دپاره دي زکوٰة ورکړل شي.

شپږم مصرف زکوٰة غارمين دي. د زکوٰة دغه مصرف ته خوشحال خان خټك داسې اشاره کړې ده:

شپږم ګروه يې غارمين دي
چې تر قرض لاندې غمګين دي"(12)

د غارم لفظي معنا ده قرضدار چې په پښتو کښې ورته پوروړی وايي، يعني هغه پوروړی چې له دۀ سره دومره مال نۀ وي چې خپل پورې باندې پرې کړي خو دغه شرط دی چې قرض يې د ناروا کار دپاره نۀ وي اخستى لکه شراب، زنا، غلا، يا د بې ځايه رسمونو پوره کولو يا اسراف کولو دپاره نۀ وي اخستى، خو په دې کښې دا نکته هم شته چې که يې د

روا کـار دپـاره پـور اخسـتی وي لکـه د مهـر پرېکولـو دپـاره وي يـا د بـل داسـې شـرعي ضـرورت دپـاره يـې پـور اخسـتی وي نـو پـه دغـه وخـت کښـې دې سـړي ته زکوٰة ورکول نور هم ډېر ثواب لري.

اووم مصـرف د زکـوٰة فـی سـبيل الله دي، يعنـي هغـه څـوك چـې د خـدای پـه لاره کښـې وتلـي وي او پـه هغـه حالـت کښـې مجبـوره شـوي وي، نـو دوی ته زکوٰة ورکول روا دی، خوشحال خان خټك دې ته داسې اشاره کړې ده:

"اووم فـــــــــــی ســــــــــبيل الله دي
چـــــي غازيـــــان کـــــه حـــــق د راه دي"(13)

مفسـرين وايـي چـې دا تـر ټولـو مصـارفو افضـل او بهتـر دی وجـه يـې دا ده چـې پـه دغـه کښـې دوې ګټـې دي، يـو خـو د غريـب مفلـس کومـك وشـي دويـم پـه دينـي خـدمت کښـې دغـه سـړی لګيـا وي او چـې دۀ تـه زکـوٰة ورکـړي نـو د دې دا معنـا ده چـې دغـه زکـوٰة ورکـوونکی د ديـن کومـك کـوي، او لـه دې قسـم څخـه مفسـرين او مجتهـدين هغـه غازيـان او مجاهـدين مـراد اخلـي چـې د خـدای پـه لاره کښـې جهـاد کـوي خـو د جنګـي مـوادو ورسـره کمـی وي، يـا هغـه څـوك مـراد دی چـې حـج وربانـدې پـور شـوی وي خـو پـه هغـه وخـت کښـې يـې نـۀ وي کـړی وروسـته يـې بيـا هغـومره مـال ورسـره نـۀ وي چـې حـج وربانـدې وکـړي نـو لـه دغـه سـړي سره پـه دې نيت کومـك کـول ډېـر ثـواب لـري چـې د حـج پـور يـې لـه غـاړې واوړي. پـه دغـه قسـم کښـې فقهـاوو طالـب علمـان هم شـامل کـړي دي چـې دوی هـم د علـم زدکولـو پـه خـاطر کلـه کلـه لـه داسـې سـتونځو سـره مخـامخ شـي چـې ډېـر کومـك تـه اړتيـا لـري، نـو دوی تـه هم زکوٰة ورکولی شي.

اتـم مصـرف: ابـن السـبيل دي، يعنـي هغـه څـوك چـې مسـافر وي، هغـه تـه زکـوٰة ورکـول جـائز دی، خوشـحال خـان خټـك دې قسـم تـه داسـې اشـاره کړې ده:

بيـــــــــــا د لارې مســـــــــــــافر دي
چـــــي خـــــوردن ورتـــــه نـــــاظر دي"(14)

دلتــه هغــه مســافر مــراد دي چــې لــه دوی ســره پــه ســفر کښــې د ضــرورت پــوره کولــو انــدازه مــال نــهٔ وي، کــه څــهٔ هــم دوی پــه خپــل وطــن او کــور کښــې غنــي او مالــدار وي خــو اوس پــه ســفر کښــې محتاجــه شــوي دي نــو پــه دا وجــه و دوی ته زکوٰة ورکول جائز دی.

## پایله

پــه پــورتنۍ موضــوع بانــدې د لیکلــو اصــل مقصــد دا دی چــې د خوشــحال خــان خټــک علمــي او مــذهبي انــدازه مــونږ تــه وشــي او خوشــحال خــان خټــک یــوازې لکــه چــې مشــهوره ده د تــورې او قلــم خاونــد نــهٔ ؤ بلکــې خوشــحال خــان خټــک د دینــي علومــو دپــاره هــم دومــره کــار کــړی دی چــې دا انــدازه ورڅخــه کیــږي چــې کــه څــهٔ هــم تراوســه پــورې دا خبــره مخــې تــه نــهٔ ده راغلــې چــې آیــا خوشــحال خــان خټــک لــه درس نظــامي پــه باقاعــده توګــه فــارغ شــوی ؤ کــه یــا؟ خــو د دوی فضــل نامــه چــې ســړی ګــوري نــو پــه ډاګــه ویلــی شــي چــې ســتر خوشــحال خــان خټــک یــو مــذهبي ســکالر او مجتهــد هــم ؤ او فضــل نامــه یــې کــټ مــټ داســې معلــومیږي چــې د فقهــي یــو بشــپړ کتــاب یــې د بــابونو پــه ډول ژبــاړلی وي، او پــه ترتیــب ســره یــې هغــه مســائل پــه شــعرونو کښــې راوړي دي چــې هغــه پــه دینــي حوالــه د انســانانو روزمــره مســایل دي. دغــه د زکــوٰة د مصــارفو ذکــر کــول یــې مــازې یــوه نمونــه وه، پــه کــار خــو دا دي چې د خوشحال خان خټک د یو مذهبي سکالر په توګه مطالعه وشي.

# حوالې


(1) قرآن کریم، سورة التوبه، پاره 9، آیت 34.

(2) ختټک، خوشحال خان، کلیات خوشحال، باب شپږم فضل نامه، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، 2005ء، مخ1054.

(3) صحیح مسلم،

(4) قرآن کریم، سورة التوبه، پاره 9، آیت40.

(5) ختټک، خوشحال خان، کلیاتِ خوشحال، مخ1054.

(6) قرآن کریم، سورة التوبه آیت، 103.

(7) مفتي، محمد شفیع، معارف القرآن، ادارة المعارف، کراچي، 1996ء، ج4، مخ398.

(8) ختټک، خوشحال خان، کلیاتِ خوشحال، مخ1054.

(9) ابی عبدالله، محمد بن احمد، القرطبي، الجامع الاحکام القرآن، مکتبه رشیدیه، کوټه، جلد 8، س ن، مخ166.

(10) پاني پتي، قاضي محمد ثناء الله، تفسیر مظهري، اشاعت العلوم ندوة المصنفین، دهلي، 1396هـ، جلد 4، مخ235.

(11) ختټک، خوشحال خان، کلیاتِ خوشحال، مخ1054.

(12) ایضاً

(13) ایضاً

(14) ایضاً

(15) ایضاً